مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۲۰/۱۰/۰۸

# تېپي غرڅه

لکه تېپي غرڅه چي ببل ګرزي له سېله څخه
هسي شان زه يم زخمي زړه جلا له خپله څخه

باغ له رنګه ګلانو ډک وي د پسرلي پر موسم
لاله په داغ پېژندل کېږي له رامبېله څخه

زماني څه دي هم و نه ليدل زما په سترګو
ارمان مي دا چي اوبه نه سوم له ختېبله څخه

پردېسی پام کړه د خيالونو لاړ مي و نه شلوي
داني د اوښکو مي زياتوب کړي له امېله څخه

خيال د وطن به ليري نه سي د "معصوم" له سره
هله به سي، که سو آزاد د ژوند له جېله څخه

آشاوا, د جهيل غاړه
اوومه د اکتوبر 2020ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ